مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

احسان الله ارینزی

۲۰۲۱/۱۲/۳۱

# ژوندي دې وي خلک

(ژوندي دې وي خلك!) د هندي وتلي ليكوال سنت گويندداس، ننداركيك دى چې په كال 1949 كې، په نيويارك كې نندارې ته وړاندي شوى دى. په دې ليكنه كې د هندوانو تر ټولو لوړه غوښتنه ( له ځانه تېرېدنه) انځور شوې ده. د دې ننداركيك پاى د گويندداس ژوند ځرگندوي، ځكه دى د شتمن راجاگوگول داس لمسى و چې په ډېر ناز روزل شوى و؛ خو داسي وخت راغلى چې ده اشرافي ژوند پرېينى او د گاندي په لاره روان شوى دى.

لوبغاړي:

د كشمير واكمن جالك

ملكه

وزير

لوى پير

بيوزله ښځه

يوه ډله خلك.

ځاى: كشمير

لومړى برخه

د كشمير په پلازمينه (سرينگر) كې د واكمنى دنگه مانۍ. نيمه ورځ ده. واكمن چې په ونه لوړ شپېته كلن پرتمين سړى ښكارى، ورو _ ورو قدم وهي.

داسي ښكاري چې د فكرونو په سمندر كې لاهو دى.

ملكه راځي. په عمر پخه ښځه چې په گاڼو او گلونو ځوانه ښكاري.

ملكه: (واكمن ته نږدې كېږي) خواره چمتو دى.

واكمن: (درېږي) تراوسه لا خواړه په ما نه دي روا شوي.

ملكه: ولې؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

واکمن: (په څوکی کيني) ما اوريدلي چې همدا اوس يوه ښځه ورېِ پاتي ده. ته خو پوهېږې چې زه د خپلې پرېکړې له مخې، تر هغه چې ټول ولس نه وي موړ، ډوډی نه شم خوړلای!

ملکه : (واکمن ته مخامخ کيني) زه ستا په دې پرېکړه خبره يم او دا هم يو راز دی چې دا ښځه ولې تر اوسه ورېِ پاتي ده؟

واکمن : زه په دې راز تر اوسه نه يم پوه. خلکو هڅه کړې چې دا ښځه ډوډی وخوري؛ خو هېڅ ګټه يې نه ده کړې. وزير ته په تمه يم چې وروستی خبر راوړي.

(درباري راځي او سر ښکته نيسي)

لوی واکمن دې ژوندی وي. وزير صيب راغلی او ستا ليدل غواړي.

واکمن: اجازه ده.

ملکه:(پاڅي) هيله لرم چې خبرې مو لنډې وي.

واکمن: لږ تم شه ګراني! کيدای شي چې په زړه پورې خبرې واوری.

ملکه: (کيني) سمه ده.

(وزير راځي چې شپيته کلن پنډ سړی دی)

واکمن: راځه. تا ته په تمه وم.

وزير: (کيني) عجيبه ده! ما تر اوسه داسي ښځه نه ده ليدلې!

واکمن: هغه دې وليده؟ څه وايي؟

وزير: هو هغه مي وليده او بيا دلته راغلم.

واکمن: اوس هم څه نه خوري؟

وزير: نه. هيڅ نه خوري!

واکمن: ولې څه غواړي؟

وزير: د يوه ستر آرمان له پاره يې روژه نيولې ده.

واکمن: دا خو دومره لويه خبره نه ده.

وزير: ټولواکه ډېره لويه خبره ده. هغه خواره چې دا ښځه يې غواړي، په سترګو ډېر ليدل کيږي؛ خو څوك يې نه شي برابرولای!

واکمن: حتی زه؟

وزير: له ټولواک نه ښښنه غواړم. حتی تاسو يې هم نه شي برابرولای!


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

واکمن: (دریږي) راشه، دلته نژدې شه. دا ښځه څه غواړي؟ ما پوه کړه.

وزیر: (دریږي) هغه د انسان غوښه غواړي!

ملکه: (په بېړه دریږي) څه شی؟ دا کومه د وینو تږې اروا ده چې د انسان په کالبوت ننوتلې؟

واکمن: (ملکې ته گوري) دا د وینو تږې اروا او که انسان، زما رعیت باله شي او د پاملرنې وړ! دا ښځه چې د انسان غوښه غواړي د کوم ځای ده او چېرته اوسي؟

وزیر: ټاټوبی او استوگن ځای نه لري. کډواله ده او اوس په ویجشوار واټ کې پرته ده!

واکمن: تعجب دی. ولې د خدای په دومره نعمتونو کې د انسان غوښه غواړي؟

وزیر: د کشمیر خلکو ته یې د دې پوښتنې ځواب نه دی ویلی.

واکمن: د کشمیر واکمن ته خو یې وایې؟ زه به دا راز ښرگند کړم او هلته ورځم

ملکه: ته! د دې له پاره چې د یوې لیونۍ ښځې هوس ښروب شي، باید د کشمیر د واکمن پاکه لمن د لارې په خاورو_ دوړو ناولې شي؟

واکمن: د واکمنۍ پرېکړه په مینځ کې ده، گرانې! که هغه له لوږې مړه شي، زه به هم د لوږې روژه ونیسم. ایا ستا دا پیرزو ده؟

ملکه: زه د واکمن په پرېکړه خبره یم؛ خو په ملك کې قانون هم شته.

واکمن: کوم قانون؟

ملکه: هغه قانون چې ستا په لاسلیك چلېږي او د هغې له مخې د هر ژوي وژل منع دي.

وزیر: د لوی واکمن عمر دې ډېر وي. ستاسو له امر سره سم هېڅوك په چا تیری نه شي کولای. د دې ښځې غوښتنه په حقیقت کې په هېواد کې د نه تیرې قانون تر پښو لاندې کوي.

واکمن: اه ... بیا هم یوه لویه ستونزه. د واکمنۍ پرېکړه زما د شخصي شرف ضمانت کوي په داسې حال کې چې قانون زما د رعیت شرافت ساتي.

ملکه: د رعیت شرافت په حقیقت کې ستا شرافت دی سرداره!!

واکمن: دا خبره سمه ده؛ خو زه باید د ټول اولس د ډوډۍ او روزۍ له پاره هڅه وکړم. که یو وږی وي زه به هم ځان وږی پرېږدم. دا زما فردي قانون دی.

وزیر: دلته د انسان د غوښې سوال دی... د دې لیونۍ ښځې په گوگل کې د کاڼي زړه پروت دی.

واکمن: سوچ په کار دی. (په کوټه کې ورو _ ورو قدم وهي)

وزیر: خوښه مو ده چې له لوی پیر سره سلا وکړو؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

واکمن: (ځای په ځای دریږي) ولي نه. زه تل د روحاني مسایلو په هکله له ده سره ګړیږم.

وزیر: نو اجازه راکړئ چې پیغام ورکړم.

(بهر ته ځي)

واکمن: (ملکې ته ګوري) دلته راشه، ګراني! رانږدې شه. راځه چې ستا د موسکا په مرسته په ستونزو بریالی شم.

(دوه تنه درباریان راځي او سرونه د درناوی له پاره ټیټ نیسی.)

لومړی درباري: د دې ښځې پلیدی غوښتني خلك پارولي. ټول په غوسه دي او...

واکمن: او څه غواړي؟

دویم درباري: ټول د ویجشوار واټ په لور روان دي او غواړي چې په هغه لیونی ښځه، چې د انسان غوښه غواړي یرغل وکړي!

ملکه: ښه ځکه ما مخکې شور ماشور واورېد.

لومړی درباري: همدا اوس ځو ډلی خلك روان دي، ناري وهي او خپله غوسه څرګندوی.

واکمن: چیرته دي؟

دویم درباري: هلته د دې واټ په پای کې.

(ټول له کړکی څخه د باندې ګوري).

واکمن: (لاس خوځوي) دا خبره هېڅ د زغملو نه ده، کړکی وتړئ.

(در باریان په بیړه کړکی تړي)

واکمن: خلکو خپل عقل له لاسه ورکړی دی. دوی په دې نه پوهېږي که چې دا ښځه زما میلمنه ده!

لومړی درباري: خلک ناری وهی چې دا ښځه به شر او وراني راولي.

واکمن: زما په ملك باندې هېڅوك شر او وراني نه شي راوستلای. هغه وږې ده او په ما د خوړو برابرولو حق لری.
لومړی درباري: ټولواک دې ژوندی وي! خلك په دې ښځه په غوسه دي. په داسې ملك کې چې قانون هر ډول تیری منع کړی، د انسان د غوښې غوښتل لیونتوب دی.

(وزیر کوټې ته راځي)

وزیر: لوی پیر په دې فتنه خبر دی او راغلی چې له ټولواک سره وګوري.

واکمن: زه ځومره نیکمرغه یم! لوی پیر په خپله تشریف راوړ.

ملکه: هغه په باطن کې زموږ د ارواوو په ستونزو خبر دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

لوی پیر کوټې ته راځي. روحاني جامې یې اغوستې، اویا کلن ښکاري. لنډه ونه او پلنه سپینه ږیره لري. ټول حاضرین درېږي او د درناوی له پاره سرونه ښکته نیسی.

واکمن: پیره ستا په راتګ ډېر خوشحاله شوم. همدا اوس زه ستاسو حضور ته در روان وم.

(لوی پیر کیني. واکمن، ملکه او وزیر هم په وار کیني)

لوی پیر: زه فکر کوم چې تاسو له فکري ستونزو سره لاس او ګریوان یاست.

واکمن: تاسو به د هغې ښځې کیسه اورېدلې وي؟ دا خواږه غواړي او زه د خپلې پرېکړې له مخې باید هغه ورته برابر کړم.

لوی پیر: زه د ټولواک په پرېکړه خبر یم؛ خو تاسو دا خبره منئ چې د انسان غوښه دې په خوږو کې حساب وي؟ تاسو ژمنه کړې ده چې خلکو ته به ډوډۍ او خواږه برابروي، نه د انسان غوښه!

(د واکمن سر ښکته ځړېږي. چوپتیا)

واکمن: (سر ورو پورته کوي) لوی پیر به ما وبښي. دا دومره پوخ دلیل نه و. یو وخت د انسان غوښه په خوږو کې حساب وه.همدا اوس هم په ډېرو وروسته پاتې ټولنو کې د انسان غوښه خوږل کېږي. زه خو نه ده. غوښه ده ا!

لوی پیر: زه په دې اریان یم چې، په ملك کې د نه تیري د قانون په سیوري کې به، د دې ښځې غوښتنه څنګه عملي شي؟

واکمن: اه، ستونزه په همدې کې ده چې دوه هندوانې باید په یوه لاس کې ونیول شي!

لوی پیر: لکه چې تاسو غواړي چې د یوې شخصي ژمنې او پریکړې د عملي کولو له پاره، د هېواد قانون تر پښو لاندې کړي؟ د واکمن عیني شخصیت د دی هېواد له ذهني شخصیت څخه لوړ نه دی!.

واکمن: (ورو پاڅي) په دې ښه پوهېږم؛ نو څه باید وکړو؟ زه د دې پوښتنې ځواب غواړم. (ناڅاپه کیني)

لوی پیر: په دې هکله به لږ خبری وکړ.، هرومرو به یوه لاره ومومو. که...

واکمن: پیره زه خپله فردي ژمنه هم عملي کوم. دا ده یوه لار می ومونده!

ملکه او وزیر: (دواړه یو ځایي) موږ ژر خبر کړه سرداره.

واکمن: زه د خپل ځان غوښه ورکوم!

(ملکه ژاړي)

لوی پیر: د خپل ځان غوښه!؟

(درنده چوپتیا)

واکمن: هو د خپل ځان غوښه. دا په بل چا تیری نه ګڼل کیږي.

لوی پیر: ټولواکه په ځان تیری هم  یو ډول تیری دی!


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

واکمن: د نه تیري د قانون ماتول ډېر درونډ کار دی. د واکمنۍ بنسټ به ونړوي. واکمن باید له خلکو سره په خپله ژمنه کلك ولاړ وي..

لوی پیر: سرداره! دا سمه حللاره نه ده. که تاسو ....

واکمن: زما په غوړونو کې همدې غړونو انګازې جوړې کړي چې خپله غوښه ورکړم!

لوی پیر: دا د عقل او پوهې غړونه نه دي.

واکمن: نه پوهېږم چې دا غړونه له کومه راځي؟ خو ما هڅوي چې دې ښځې ته ورشم او خپله غوښه ورکوم!

وزیر او ملکه: (دواړه په ګډه) هغې ښځې ته !؟ له خاورو او دوړو ډکو واټونو ته ځې؟

واکمن: هو! زه ویجشوار ته ځم او دا ښځه ګورم . د خپل ځان غوښه هم نه سپموم... هرومرو ورځم.

ملکه: (پاځي) سرداره! مخکې له دې چې خپلې وینې تویې کړې، راشه او ما ټوټې _ ټوټې کړه. قانون وایي چې ښځه د مېره نیمایي برخه ده.

وزیر: د ټولواک غوښه یوه ناولې چینجې ته! سرداره مخکې له دې چې ته تېې شې. موږ رعیت به تر ویجشواره پورې ټوله لاره په خپلو اجسادو ډکه کړو.

واکمن: (پاځي) ستاسو له دې سرښندنې نه ډېره منڼه؛ خو زه نه شم کولای چې ستاسو په غوښتنه، په هېواد کې د نه تیري پرتمین قانون مات کړم. ډاډه اوسئ چې یوازې خپله غوښه ورکوم!

(ټول پاځي)

واکمن: (په جګ آواز) ساتونکو!

(دوه ساتونکي راځي)

واکمن: زما آس چمتو کړئ.

(ساتونکي بیا درناوی په ځای کوی او ځي).

لوی پیر: په هېڅ کار کې بیړه ښه نه ده.

وزیر: سرداره! دا به سپین سترګي وي که ووایم چې زه د لومړی ځل له پاره ستاسو دا خبره نه منم چې ټولواک دې د نورو خلکو په خیر، په خاورینو واټونو پل کېږدي!

واکمن: یوه بله خبره . باید د دولت کارکوونکي خبر کړم چې د هغې ښځې د ځورولو له پاره ټولې هڅې شنډې کړي. (غواړي چې روان شي)

ملکه: (لاړ نیسي) چېرته ځې؟ سرداره زه دې نه پرېږدم!

واکمن: ژر بېرته راځم. ګرانې تر ویجشواره پورې ځم (مخ اړوي او په بیړه ځي).

ملکه: تر ویجشواره پورې!؟



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

وزیر: د حرم ملکي غلي شه.

ملکه: ځنګه غلي شم؟ احساس کوم چي ټوله فضا د تورو کاغیو په کرېږو ډکه ده. زه هم ویجشوار ته ځم. (روانیږي).

وزیر او لوی پیر: تم شه د حرم ملکي، موږ هم درسره ځو.

(دري واړه وځي او پرده لوېږي)

دویمه برخه

په ویجشوار کي ډیر قهرجن خلک ناري وهی. (دا ناولي په کانو وولئ)، (دا کوډګره ده)، (دا ښځه دوزخی ده) او .... جارچي راځي او په لوړ آواز د ټولواک د راتلو چار وهی.

جارچي: زموږ د سترګو تور د کشمیر واکمن راځی.

ناڅاپي چوپتیا، خلك واکمن ته لار پریږدی او د واټ څنډو ته بهیږي. هلته وړاندي یو کمزوری او بیوزلی انسان په زمکه پروت ښکاری

واکمن: (ښځي ته نږدی کیږي. د واکمن ساتونکي ورپسي دي.) دا میرمن په خپل حال پریږدئ. زه راغلی یم چي له نژدې یي وګورم او ورسره وګړیږم..

(د خلکو د خوښی شور پورته کیږي او نور هم په شا ځي)

(ښځه ورو پاځي، د واکمن په وړاندي د درناوي سر ټیټوي او بی حرکته دریږي)

واکمن: میرمني! اوریدلي مي دي چي ته د انسان غوښه غواړې. په ټول ژوند کي مي داسي عرض نه و اوریدلی. ته خو زما په پرېکړه او ژمنه خبره یې؟

(ښځه واکمن ته نږدي کیږي. ورو خو پرېکنده خبري کوي)

ښځه: د خلکو د سرتاجه. زه به همداسي ورې پاته شم. زه پوهیږم چي ته په خپل ملك کي یو کس هم وږی نه پریږدې؛ خو هغه څه چي زه یي غواړم، برابرول یې له امکان څخه لیری ښکاري.

واکمن: هر څه امکان لري! غیر له هغه نه چي زما پرېکړه ماته کړي. زه دلته راغلي یم چي له تا سره وګړیږم او حاجت دي پوره کړم.

ښځه : له ما سره وګړیږي او حاجت مي پوره کړي؟ زما په شان یوه بیوزلي ښځه هېڅکله له خپل ټولواک سره د خبرو جرئت نه لري!

واکمن: ستا حاجت هرومرو پوره کوم.

ښځه: زما په شان جاهله ښځه په قانون څه پوهیږي؟ زه یوازي د خپل ځاني طبیعت په قانون خبره یم او بس!

واکمن: ته په دې پوهیږی چي زموږ ستاسو په ملك کي هر ډول تیری بند دی؟

ښځه : زه یوازي په یو قانون خبره یم، هغه قانون چي تا جوړ کړی او د هغي له مخي تر هغه وخته پورې چي ټول رعیت ته روزي نه وي رسیدلي، ټولواک هیڅ هم نه خوري.

(چوپتیا)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

واکمن: (ښځې ته نږدې کېږي) غوږ ونيسه ميرمنې! ستا غوښتنه د ملك له عمومي قانون او زما له فردي پرېکړې سره سمون نه لري... او که نه ......

ښځه: ما وبښه. زه په واټ کې دا ګڼه _ ګوڼه او دا شور_ زوږ نه شم زغملای. بايد هوسا اوسم. (غواړي چې بېرته ستنه شي.)

واکمن: هيله کوم چې مه ځه. زه به خلکو ته امر وکړم چې کرار شي. (خلك چوپېږي او کيني)

ښځه: او بيا څه؟

واکمن: او بيا به ستا حاجت پوره کړم!

ښځه: څنګه؟

واکمن: (په غوڅه توګه) د خپل ځان په غوښه!

خلك پاڅي. بيا چوپتيا؛ خو لږ ځنډ وروسته دا غږونه اوريدل کيږی:

لومړی: (په چيغه) دا شيطاني اروا بايد ووژل شي!

دويم: موږ ټول د دې په واك کې يو. هېڅوك حق نه لري چې د ټولواک په وجود لاس ووهي.

واکمن: هيله کوم چې کرار کيني.

(چوپتيا)

واکمن: اوس که غواړې زه به خپله غوښه درباندې وخورم. زه حاضر يم؛ خو ته په دې پوه شه چې په ما تيری هم د قانون د ماتولو مانا لري.

ښځه: اوس نو کمزوري دليلونه جوړوې. خپل ضعف په دې خبرو پټوې.اوس دا ښکاره شوه چې ته زما حاجت نه شي پوره کولای. په تا کې دا جرئت او زړورتيا نه وينم. زه په لوږه او مرګ محکومه يم!

واکمن: په ما رحم وکړه ميرمنې! زه ريا نه کوم، دا مې توره او ... (او لاس په توره ږدي)

ښځه: لږ حوصله وکړه. زه فکر کوم چې په تا باندې تيری د قانون د ماتولو مانا نه لري.

واکمن: څنګه؟

ښځه : د تيرې او له ځانه تيريدنې تر مينځ ډېر توپير دی. دواړه درد لري او سرې ځوروي؛ خو له ځانه تيريدنه اروا پاکوي او انسان تلپاتې ژوند ته رسوي

واکمن: خدايه! کار وشو. (توره له تيکې نه باسي. درنده چوپتيا). اې ميرمنې! په هغه څه پوه شوم چې تر اوسه نه پرې پوهېدم. تېری د روح او جسم عذاب دی چې د انسان له پاره تلپاتې ويره زيږوي؛ خو اوس

(د ده خبره پرې کېږي او درباري وړاندې راځي)

درباري: د ټولواکعمر دې ډېر وي! د حرم ملکه راغلې او دلته د راتلو اجازه غواړي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

واکمن: همدلته ودرېږه، هو! نه تیری یعنی د یوه ټاکلي هدف له پاره څورېدل. که چېرې هغه څور چې زه یې ګالم، زما د پرېکړې ماتوونکي نه وي، دا څور تیری نه ګڼل کیږی.

(چوپتیا)

میرمني اوس خپل ځان تا ته بنیم. مني یې؟

ښځه: د واکمن سوغات په سترګو منم..

واکمن: (درباري ته) اوس ملکې ته لار ورکړې. دې غوښتل چې تر ما وړاندې شي!

ملکه: هغه ښځه کومه ده؟ آه، ومې لیده (د ښځې په لور ورځي) ته د انسان غوښنه غواړې؟ زه تر تا قربان. پوهېږې چې زه د واکمن نیمايي وجود یم.

ښځه: (خپه غوندې) د حرم ملکې ما د واکمن وجود منلی دی. زه په خپل قول کلکه ولاړه یم. دی نه شم خپه کولای.

(خلك بیا خوځیږي)

ملکه: واکمن زما له سلا پرته خپل ځان چا ته نه شي بښلای. دی په ما پوری هم اړه لري؛ ځکه نو د ده بښل عملي نه دی.

ښځه: عملي یا غیر عملي. زه یوازې لومړنی خبره منم!

واکمن: د کشمیر ملکه هیڅ وخت د واکمن په خبره کې څه نه شي ویلای (چوپتیا).

واکمن : (توري ته ګوري) ای د کشمیر د واکمن بیکاره توري! اوس ستا له پاره کار پیدا شو. ښه میرمني! اوس خپل کوم هډ بیل کړم؟ د کوم هډ غوښه دې خوښېږي؟ ورون؟ غوښه ور او نرم دی. ځیګر؟ او که د لاس پنډی؟ کوم یو؟ (غواړې چې توره په خپله پنډی کې خښه کړي).

ښځه: (ناره) مه کوه!

(چوپتیا)

واکمن: زه نور نه غواړم چې ته وږې پاته شي.

ښځه: وږی! زما لوږه چېرته لاړه؟

واکمن: چېرته لاړه؟ دا څه وایې؟ زه دې بیخي اریان کړم.

ښځه:(په خپله خبته لاس راکاږي) هو! زه نوره نو وږې نه یم..

واکمن: داسي نه کیږی، ته غواړې په دې لوبه زما اراده له مینځه یوسی.

ښځه: لوبه، موبه نه شته. ساده خبره ده(په ګونډو شي) لوږه لاړه. په داسي یوه ملك کې چې هلته واکمن خپله تږوله هستي، خپل ژوند... (چوپتیا).... د خپلې پرېکړې، د خپلې ژمني له پاره ښندي، هلته به څوك وږي پاته شي!.

(ورو سر ټیټوي)

... هلته چې واکمن په خپل ولس کې ژوری ریښي ولري

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په څیر و لولئ

(لاس خاورې ته وړی)

... هلته چې واکمن د عادي خلکو په څېر په ځمکه پښه ږدي او ځان کم نه ورته ښکاري

... هلته چې خاوره، خلك او واکمن سره يو شان وي

(خپل سر د واکمن په پښو ږدي).

(د خلکو چغې جگړې چې وايي: ژوندی دې وي واکمن)

واکمن: (ښځه له ځمکې پورته کوي) ژوندي دې وي خلك!!

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ